د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**گڼه: 509**

(15 - 20 سلواغه 1404 هـ ش)

## د ټرمپ د سولې بورډ؛ موخې او راتلونکې

---




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انگلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- د ټرمپ د سولې بورډ؛ موخې او راتلونکی ............................................................... 3
- د ټرمپ د سولې بورډ محتوی ............................................................................ 4
- ټرمپ محوره د سولې بورډ ................................................................................. 5
- د سولې بورډ له جوړېدو څخه د ټرمپ موخه ............................................................ 6
- ایا دغه بورډ د غزې د سولې لپاره جوړ شوی؟ .......................................................... 7
- د سولې د بورډ راتلونکی .................................................................................. 8
- پایله ........................................................................................................ 9
- سرچینې ................................................................................................... 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ټرمپ د سولې بورډ؛ موخې او راتلونکی

### سریزه

د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ **د** ۲۰۲۵ز. کال د سپټمبر په وروستیو کې د **سولې بورډ** (**Board of Peace**)د جوړېدو اعلان وکړ. دا بورډ د هغه ۲۰ مادیز پلان د دویم پړاو برخه وه چې هدف يې د اسراییلو او د حماس ترمنځ د غزې جګړه پای ته رسول وو. د بورډ لومړنی تصور یوازې د حماس او اسراییلو ترمنځ د سولې رامنځته کول او د غزې بیارغونه وه او د همدې غزې د بورډ په نوم يې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا څخه هم تایید واخیسته، خو کله چې ټرمپ نړیوال اقتصادي فورم کې د سولې بورډ منشور معرفي کړ، نو په هغه ټول منشور کې د غزې او اسراییلو نوم حتی نه و یاد شوی، بلکې دا بورډ يې د یو داسې نړیوال بنسټ یا سازمان په توګه معرفي کړ چې د ټولې نړۍ شخړې به حلوي او په نړۍ کې به د سولې او ثبات لپاره کار کوي. ټرمپ د نړۍ ٦٠ هېوادونو ته په دې بورډ کې د غړیتوب بلنه ورکړې وه چې یوازې ۲۵ هېوادونو دغه بلنه ومنله. همدارنګه د دایمي غړیتوب په بدل کې به هېوادونه یو میلیارد ډالر ورکوي.

داسې معلومیږي چې د امریکامتحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ غواړي چې د سولې د بورډ له لارې دغه سازمان کمزوری کړي او د سولې بورډ چې ټرمپ يې د ټول عمر لپاره مشر دی د یو داسې سازمان په توګه معرفي کړي چې د ملګرو ملتونو ځای ونیسي. ټرمپ د ملګرو ملتونو لسګونه داسې پروګرامونه له پامه غورځولي او بودیجه يې پرې بنده کړې ده چې د خلکو ژوند ژغوري. همدارنګه يې د غړو هېوادونو لهخوا ټاکل شوې مالي ونډې، چې د ورکړې مکلفیت يې لري، په لویه کچه نه دي ورکړې. د ټرمپ اداري د ملګرو ملتونو د روغتیا نړیوال سازمان، د اقلیم اړوندو بنسټونو، او نړیوالو اقلیمي تړونونو څخه ځان ایستلی او د ملګرو ملتونو د نفوس صندوق ته يې هم مالي مرسته بنده کړې ده؛ هغه صندوق چې په وسلهوالو شخړو او بحراني سیمو کې د ښځو او نجونو ملاتړ او ساتنه کوي.[1] د دې ترڅنګ يې د ملګرو ملتونو اړوند ۳۳ بنسټونو څخه هم ځان ویستلی دی چې دا په ښکاره د دې څرګندونه کوي چې ټرمپ غواړي د ملګرو ملتونو د کمزوري کېدو له لارې د سولې بورډ پیاوړی کړي. د دې تحلیل موخه دا ده چې دا واضحه شي چې د سولې بورډ څه شی دی؟ موخې يې څه دي؟ او د دې بورډ راتلونکی به څه ډول وي؟

## د ټرمپ د سولې بورډ محتوی

د ټرمپ د سولې بورډ یو منشور لري چې یوه سریزه، دیارلس څپرکي او ۱۳ مادې لري. په سریزه کې د نړیوالې سولې جوړونې اداري پر اړتیا خبره شوې او د سولې د رامنځته کېدو په موخه د دولتونو پر نړیوال ایتلاف بحث شوی دی. د دې منشور په لومړۍ مادې کې د سولې بورډ موخې او دندې لیکل شوي دي چې په دې ډول دي:

د سولې بورډ یو نړیوال سازمان دی چې موخه یې د ثبات رامنځته کول، د باور وړ او قانوني حکومتولۍ بېرته ټینګول او په هغو سیمو کې چې د شخړې له امله اغېزمنې یا له شخړې سره ګواښل کېږي، تلپاتې سوله خوندي کول دي.

د سولې بورډ به د دې منشور له مخې، د نړیوالو قوانینو سره سم او د دې منشور د تصویب شویو میکانیزمونو پر بنسټ په نړۍ کې د سولې د رامنځته کولو دنده ترسره کوي.[2]

د سولې بورډ د منشور په دویمه ماده کې پر غړو دولتونو او د هغو پر مسؤلیتونو بحث شوی دی. دا چې څوک د دې بورډ غړي کېدای شي؟ دویمه ماده وایي: د سولې بورډ غړیتوب یوازې هغو دولتونو ته محدود دی چې د رئیس (Chairman) له خوا ګډون ته وربلل شي او د دې بورډ د منشور منلو ته رضایت اعلان کړي.

دا چې د سولې بورډ به څه ډول خپل کارونه پرمخ وړي؟ په دې اړه د دې بورډ د منشور درېیمه ماده وایي:

(الف) د سولې بورډ د غړو دولتونو څخه جوړ دی.

(ب) د سولې بورډ به د خپل اجنډا پر ټولو وړاندیزونو رأیه ورکوي، په دې کې کلنۍ بودیجه، د فرعي ادارو جوړول، د لوړپوړو اجرائیوي چارواکو ټاکنه او ستراتیژیکو سیاسي پرېکړې، لکه: د نړیوالو تړونونو تصویب او د سولې رامنځته کېدو لپاره د نویو نوښتونو پیل شامل دي.

(ج) د سولې بورډ به لږ تر لږه هر کال د رأیې ورکولو غونډه کوي او په نورو وختونو او ځایونو کې هم د رئیس په وړاندیز غونډې کولای شي. د غونډو اجنډا به د غړو دولتونو د خبرتیا او نظر اخیستنې او د رئیس له تایید وروسته د اجرائیوي بورډ له خو نهایي کېږي.

(د) هر غړی دولت به یوه رأیه لري.

(هـ) پرېکړې به د حاضرو غړو دولتونو د اکثریت له مخې کېږي، خو د رئیس تایید شرط به هم ورسره وي. رئیس کولای شي د رایو د برابرۍ (tie) په حالت کې د رئیس په حیث خپله رأیه هم وکاروي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

(و) د سولې بورډ به له اجرائیوي بورډ سره منظمې غونډې کوي، چې په کې به غړي دولتونه خپلې سپارښتنې او لارښوونې وړاندې کوي او اجرائیوي بورډ به د خپلو عملیاتو او پرېکړو راپور ورکوي. دا غونډې به لږ تر لږه هره رُبع (quarterly) ترسره کېږي، او وخت/ځای به یې د اجرائیوي بورډ له خوا ټاکل کېږي.

(ز) غړي دولتونه کولای شي د رئیس په موافقه په ټولو غونډو کې د بدیل لوړپوړي چارواکي له لارې استازیتوب وکړي.

(ح) رئیس کولای شي اړوند سیمه‌ییز اقتصادي ادغام سازمانونه (regional economic integration organizations) ګډون لپاره راوبلي، په هغو شرایطو چې خپله یې مناسب وبولي.

د سولې بورډ د منشور په څلورمه ماده کې اجراییوي بورډ معرفي شوی دی. دغه ماده وایي: اجرائیوي بورډ به د رئیس له خوا ټاکل کېږي او د نړیوال شهرت لرونکو مشرانو څخه به جوړ وي. د اجرائیوي بورډ غړي به دوه کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي، د رئیس له خوا د لرې کولو وړ دي او د هغه په خوښه تمدیدېږي. اجرائیوي بورډ به یو اجراییوي مشر ولري چې رئیس یې نوماند کوي او اجرائیوي بورډ یې د اکثریت په رأیه تاییدوي.

د سولې بورډ د منشور د لسمې مادې د دویمې فقرې پر بنسټ هغه وخت منحلیږي چې رئیس یې ضروري یا مناسب وبولي، یا د هرې طاق (odd-numbered) کلیزې د کال په پای کې، خو که د بورډ رئیس د هماغه طاق کال د نومبر تر ۲۱مې پورې دغه بورډ تمدید کړي، نو بیا نه منحلیږي.[3]

## ټرمپ محوره د سولې بورډ

د سولې بورډ چې د ټرمپ له لورې رامنځته شو، د دغه منشور له موادو په ډاګه معلومیږي چې دغه د سولې بورډ یو نړیوال سازمان نه بلکې د ټرمپ سازمان دی، ځکه ټرمپ له یوې ځان د دې بورډ رئیس معرفي کړی او له بلې خوا یې د بورډ اکثریت واکونه ځان ته محول کړي دي، چې دلته د دغې دعوې د اثبات لپاره د سولې بورډ د منشور ځینې مواد راوړو:

۱- د سولې بورډ د منشور د دریېمې مادې دویمې فقرې پر بنسټ ټرمپ ځان د دې بورډ د رئیس په توګه معرفي کړی دی، چې دا کړنه د ډیموکراتیک چلند خلاف کار دی. د هر نړیوال سازمان رئیس باید د غړو دولتونو د اکثریت رایې پر بنسټ وټاکل شي.

۲- د منشور د دریېمې مادې د دویمې فقرې د دویم جز پر بنسټ ټرمپ ځان ته ځانګړي واکونه مختص کړي دي، دغه ماده وایي: رئیس د ځانګړي واک په درلودلو سره کولای شي چې د سولې بورډ د مأموریت د پوره کولو لپاره فرعي اداري جوړې، بدلې یا منحلې کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

۳- د منشور په څلورمه ماده لومړۍ فقره کې د اجراییوي بورډ د مشر د نوماند کولو واک هم له ټرمپ سره دی. د دې ترځنګ وايي چې: د اجرائیوي بورډ پرېکړې به د حاضرو غړو د اکثریت په رأيه ترسره کېږي، خو رئیس هر وخت کولای شي هغه ویټو کړي.

۴- د منشور اتمه ماده د دغه منشور د تعدیلاتو په اړه ده. دغه ماده په وروستۍ برخه کې وايي چې، تعدیلات هغه وخت د تطبیق وړ دي چې رئیس یعنې ټرمپ یې تایید کړي.

۵- د منشور نهمه ماده وايي: رئیس د سولې بورډ په استازیتوب واک لري چې د دې منشور سره سم، د سولې بورډ د مأموریت د پلي کولو لپاره پرېکړې (resolutions) یا نور هدایتونه صادر کړي. یعنې ټرمپ کولای شي چې د سولې بورډ د غړو دولتونو له مشورې پرته د هغوی لپاره هدایتونه او پریکړې صادرې کړي او هغوی بیا مکلف دي چې دغه هدایتونه ومني.

٦- د منشور د دویمې مادې پر بنسټ یوازې هغه دولتونه د دې بورډ غړي کېدای شي چې د بورډ رئیس (ټرمپ) ورته بلنه ورکړې وي، که د ټرمپ خوښه نه وي هیڅ دولت نشي کولای د دې بورډ غړي شي.

۷- د منشور د دویمې مادې د دویمې فقرې پر بنسټ د سولې بورډ هر غړی دولت یوازې د درېو کالو لپاره د دې بورډ غړیتوب اخیستلی شي، خو استثناء دا ده چې که رئیس وغواړي، نو هغه له درېو کالو وروسته هم د غړي په توګه پاتې کېدای شي.

د پورته موادو څخه په ډاګه معلومیږي چې د سولې بورډ کوم داسې نړیوال سازمان نه دی چې هغه به په نړۍ کې د ثبات لپاره کار وکړي او یا به هم د یو نړیوال سازمان په ډول راڅرګند شي، بلکې دا سازمان ټرمپ د خپلو موخو لپاره رامنځته کړی او واک یې ټول له همده سره دی. دا چې ټرمپ د دې بورډ له لارې کومې موخې لاسته راوړل غواړي لاندې پر بحث کوو.

## د سولې بورډ له جوړېدو څخه د ټرمپ موخه

په عمومي ډول ویلای شو چې ټرمپ غواړي د سولې له بورډ څخه لاندې موخې ترلاسه کړي:

**۱- اقتصادي موخې**: ټرمپ داسې یو شخص نه دی چې هغه دې په ارزښتونو باور ولري، بلکې هغه یو سوداګریز فکر لري او تر ډېر قضیو ته د سوداګرۍ او ګټې په نظر ګوري. ټرمپ غواړي چې د دې بورډ له لارې لاندې اقتصادي اهداف لاسته راوړي:

- په اوایلو کې هر دولت چې د غړي په توګه منل کېږي باید یو میلیارد ډالر دې بورډ ته ورکړي او د منشور مطابق ټرمپ د دې بورډ په پریکړه خپلواک دی، معنی دا چې ټرمپ کولای شي دا پیسې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

مصرف کړي. د سولې بورډ د منشور دویمه ماده او دویمه فقره وايي: هر غړی دولت به د دې منشور د نافذېدو له نېټې څخه تر درې (۳) کلونو زیات غړیتوب نه لري، خو د رئیس له خوا د تمدید وړ دی. دا درې کلنه دوره به پر هغو غړو دولتونو نه تطبیقېږي چې د منشور د نافذېدو په لومړي کال کې د سولې بورډ ته له ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ (یو میلیارد) امریکايي ډالرو څخه زیات نغدي تمویل ورکړي.

- ټرمپ غواړي چې په نړۍ کې شته او راتلونکې شخړې د دې بورډ له لارې حل شي او کله چې ټرمپ شخړې حلوي هغې کې به هم د طبعي سرچینو او د نغدي مرستو د ترلاسه کولو هڅه کوي، په دې معنی چې سوله به د یو هېواد په ګټه څرخوي او په بدل کې به یې مادي شیان ترې غواړي.
- ټرمپ غواړي چې د غزې د بیارغونې پیسې د ده له لارې کنټرول شي، تر څو دی وکولای شي چې د غزې په نوم د عربي او نورو هېوادونو څخه پیسې راټولې کړي او هغه بیا په خپله خوښه مصرف کړي.
- د غزې د بیارغونې لپاره امریکايي شرکتونو ته د قراردادونو ورکړه. ټرمپ غواړي چې امریکايي شرکتونه د غزې په بیارغونه کې ونډه ولري او له دې لارې امریکايي بودیجه پیاوړې کړي.
- د غزې په سمندریز بندر کنټرول ترلاسه کول او له دې لارې اقتصادي ګټه کول.

**۲- امنیتي موخې:** ټرمپ غواړي چې د دې بورډ له لارې د نړۍ امنیتي سیستم په خپل کنټرول کې ولري. په غزه کې د حماس مخنیوی وکړي، د اسراییلو دایمي دفاع رامنځته کړي، په منځنۍ ختیځ کې د ایران مخنیوی وکړي، د لویو شخړو په حل کې خپلې امنیتي ګټې خوندي کړي.

۳- له دې بورډ څخه ټرمپ شخصي موخې هم لري. یو دا چې ځان د نړۍ رهبر او په نړۍ کې د سولې راوستونکي شخصیت په توګه معرفي کړي. راتلونکي کال یو ځل بیا د نوبل جایزې لپاره ځان نوماند کړي. که په متحده ایالاتو کې د ده د جمهوري ریاست دوره پای ته هم رسیږي، نو دی به بیا هم د سولې بورډ مشر وي او د نړۍ په چارو کې به ګوتې وهي او ځان به نړیوال رهبر بولي.

### ایا دغه بورډ د غزې د سولې لپاره جوړ شوی؟

په پیل کې د سولې بورډ موخه دا وه چې د حماس او اسراییلو ترمنځ دایمي اوربند رامنځته شي، د غزې بیا رغونه ترسره شي او په غزې کې یوه اداره رامنځته شي تر څو د غزې چارې تنظیم او مدیریت کړي، خو د سولې له بورډ اعلان وروسته دا جوته شوه چې د سولې بورډ په ټول منشور کې غزې نوم نشته او دغه بورډ د یو نړیوال سازمان په توګه رامنځته شوی دی، ټرمپ غواړي چې د سولې بورډ یو نړیوال بنسټ په توګه رامنځته کړي او د غزې اجرایوي بورډ په نوم یو بل فرعي ارګان د سولې بورډ تر چتر لاندې ایجاد کړي چې،



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر مارکو روبیو(Marco Rubio) ، ځانګړی استازی سټیو وټکوف (Steve Witkoff)، د ولسمشر پخوانی سلاکار جېرډ کوشنر(Jared Kushner) ، د بریتانیا پخوانی صدراعظم ټوني بلېر(Tony Blair) ، پخوانی د ملګرو ملتونو ډیپلوماټ نیکولای ملادینوف(Nickolay Mladenov) ، سوداګر مارک رووان(Marc Rowan) ، د نړیوال بانک رئیس اجای بانګا(Ajay Banga) او د پالیسۍ لپاره د ولسمشر مرستیال/سلاکار رابرټ ګابریل (Robert Gabriel) به یې غړي وي. پلان دا دی چې د بورډ هر غړی به د غزې د ثبات او اوږدمهالي بریا لپاره د یوې مشخصې برخې مسؤلیت پر غاړه ولري، لکه: د حکومتولۍ ظرفیت جوړونه، سیمه‌ییزې اړیکې، بیا رغونه، د پانګونې جذب، لویه مالي تمویل او د پانګې بسیج/موبلایز کول. د غزې اجرایوي بورډ ته به ځینې نور غړي هم اضافه شي چې په دې کې د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر هاکان فیدان(Hakan Fidan) ، د قطر د ستراتیژیکو چارو وزیر علي الثوادي(Ali Al-Thawadi) ، د مصر د عمومي استخباراتو رئیس حسن رشاد(Hassan Rashad) ، د متحده عربي اماراتو د نړیوالې همکارۍ وزیره ریم الهاشمي(Reem Al-Hashimy) ، اسراییلي-قبرصي سوداګر یاکیر ګابي(Yakir Gabay) او د منځني ختیځ د سولې پروسې لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې همغږونکې سیګرید کاګ (Sigrid Kaag). جالبه دا ده چې د غزې د راتلونکي په اړه بحث کېږي او منشور جوړېږي، خو نه هم د سولې په عمومي بورډ کې او نه هم د غزې په اجرایوي بورډ کې د فلسطین استازی شتون لري.[4]

لنډه دا چې د ټرمپ د سولې بورډ اصلاً د غزې بورډ نه دی بلکې د غزې لپاره یو اجرایوي بورډ د دې بورډ تر چتر لاندې جوړېږي. بل دا چې الجزیزې ځینو فلسطینانو سره مرکې کړې او د هغوی نظر دا دی چې د سولې د نوي بورډ جوړېدل د دوی له واقعي ژوند او حالاتو څخه لرې ښکاري. همدارنګه فلسطینیان په دې باور دي چې د غزې لپاره د متحده ایالات پلان یو خوب دی او د دغه نوي فصل پیلول به دومره اسانه نه وي لکه څنګه چې امریکایان فکر کوي.[5]

## د سولې د بورډ راتلونکی

د دې بورډ راتلونکي په اړه درې سناریوګانې وړاندې کولای شو:

لومړی سناریو دا ده چې دا بورډ به بریالی شي او د نړیوالو شخړو په ځانګړي ډول د غزې او اوکراین په حل کې به رغنده رول ولري. دا سناریو ما ته کمزورې ښکاري او د دې دوه بنسټیز لاملونه دي: یو دا چې د نړۍ ستر قدرتونه د دې بورډ غړیتوب نه ده منلی، لکه چین، روسیه او اروپايي ټولنې او له دې پورته یو داسې نړیوال بنسټ بریالي کېدل ستونزمن دي. دویم دا چې دا سناریو هغه مهال د نړیوالو د شخړود حل په برخه کې بریالی کېدای شي چې د شخړو لوري د دې بورډ غړیتوب ولري تر څو د سولې بورډ پریکړو ته الزامیت ولري او اړ شي چې د دې بورډ خبره ومني، اوس که روسیه او اوکراین دواړه د دې بورډ غړي نه وي، نو څنګه

به هغوی د سولې د بورډ پرېکړه پر ځان الزامي وګڼي. د دې ترڅنګ د دې بورډ پریکړې د غزې په اړه هغه هم هغه مهال بريالي کېدای شي حماس واقعاً کمزوری شي، فلسطيني وګړي د نوې اداري سره همکاري وکړي او عربي هېوادونه قوي اقتصادي تمويل کړي چې په دې برخه کې هم ستونزې موجودې دي.

دويمه سناريو دا ده چې بورډ نيمه بريالی پاتې شي. په دې معنی چې ځينې رواني شخړې حل کړای شي تر څو نړۍ ته د بورډ اهميت او د هغوی کړنې ثابتې کړي، خو دوامداره شخړې لکه د هند او پاکستان او راتلونکو نويو شخړو کې کېدای شي تر ډېره بريالی نشي.

درېيمه سناريو د ټرمپ د سولې د بورډ ناکامي ده او زما له نظره دا سناريو په څو دلايلو ډېره قوي ده. يو دا چې د سولې بورډ په واقعي معنی د سولې بورډ نه دی بلکې دا د ټرمپ بورډ دی چې په منشور کې يې ټول واکونه له ځان سره ساتلي دي. دويم دا چې د چين، روسيې او اروپايي ټولنې په څېر قدرتونه د دې بورډ غړيتوب نه لري. درېيم دا چې د نړۍ ټول هېوادونه د دې بورډ غړي نه دي چې هغوی دې د شخړو د حل په موخه د دې بورډ پرېکړې حتمي او الزامي ومني، نو کېدای شي د يوې شخړې د حل په اړه دا بورډ پريکړه وکړي، خو د شخړو لوري چې د دې بورډ غړي نه دي، دغه پرېکړې ونه مني او دا هم دليل دی چې کېدای شي دغه بورډ بريالی نشي. څلورم دا چې په غزه کې د حماس بيا راپورته کېدل او د ټرمپ د خوښې پروسې سره د فلسطيني وګړو مخالف هم ډېر امکان لري، څلورم دا چې ټرمپ تر ډېره د دې بورډ له لارې شخصي ګټې لاسته راوړل غواړي چې دا خپل د دې بورډ د له منځه تللو لپاره بسنه کوي.

**پايله**

د ټرمپ د سولې بورډ په ظاهر کې د غزې جګړې د ختمولو او نړيوالو شخړو د حل لپاره جوړ شوی، خو د منشور مواد ښيي چې دا يو بېطرفه نړيوال سازمان نه دی، بلکې تر ډېره د ټرمپ تر شخصي کنټرول لاندې جوړښت دی. ځکه مهم واکونه لکه د غړو دعوت، د پرېکړو ويټو، د منشور تعديل، د اجرائيوي بورډ ټاکنه او حتی د بورډ منحل کول ټول د رئيس (ټرمپ) په لاس کې دي.

ټرمپ له دې بورډ څخه درې ډوله موخې تعقيبوي، يو اقتصادي موخې دي،چې په دې کې د غړيتوب په بدل کې د يو ميليارد ډالرو اخيستل، د شخړو د حل په بدل کې مادي ګټې ترلاسه کول، د غزې د بيا رغونې پيسو او قراردادونو کنټرول او د غزې له سمندريز بندر څخه استفاده کول. دويم امنيتي موخې دي چې په دې کې د حماس کمزوري کول، د اسراييلو د امنيت تضمين، د ايران د نفوذ مخنيوی او امريکايي امنيتي ګټې خوندي کول.درېيم شخصي موخې دي، چې په دې کې ځان د نړۍ رهبر او په نړۍ کې د سولې راوستونکي شخصيت په توګه معرفي کړي. راتلونکي کال يو ځل بيا د نوبل جايزې لپاره ځان نوماند

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کړي. که په متحده ایالاتو کې د ده د جمهوري ریاست دوره پای ته هم رسیږي، نو دی به بیا هم د سولې بورډ مشر وي او د نړۍ په چارو کې به ګوتې وهي او ځان به نړیوال رهبر بولي.

همدارنګه، د غزې په تړاو د بورډ د عملي میکانېزمونو تحلیل ښیي چې دا ابتکار د فلسطیني مشروع استازولۍ له کمښت سره مخ دی. نه یوازې د سولې بورډ په منشور کې د غزې نوم نه لیدل کېږي، بلکې د غزې د اجرایوي بورډ په طرحه کې هم فلسطیني استازیتوب نشتون د مشروعیت ستونزه لا ژوره کوي. دا حالت د دې احتمال زیاتوي چې فلسطینیان به دا پروسه تحمیلي وبولي او له همدې کبله به د تطبیق په مرحله کې له سخت مقاومت، بې باورۍ او ناکامۍ سره مخامخ شي.

د ټرمپ د سولې دا بورډ د چین، روسیې او اروپايي ټولنې نه ګډون، د فلسطینیانو د استازولۍ نشتون او د غزې داخلي مقاومت له امله کېدای شي ناکام شي.

## سرچیني

[1] AJC. “5 Things to Know About Trump’s Board of Peace”, January 27, 2026, Access link:
[2] Jacob Magid. “Full text: Charter of Trump’s Board of Peace”, The Time of Israel, 18 January 2026, Access link:
[3] Ibid.
[4] Edward P. Djerejian. “What Comes Next for Gaza and Trump’s Board of Peace”, January 29, 2026, Access link:
[5] Al Jazeera and News Agencies. “Trump launches Board of Peace at signing ceremony in Davos”, 22 Jan 2026, Access link:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000